ترتیب و تنظیم:

**هژبر شینواری**

# د پښتو ادب مرغلری



## سندری او سرودونه

مصطفی سالک نیکمرغه دی چی د پښتونخوا د غرونو غارونه ورته حرا حرا ښکاري. ځکه خو د عشق د پرښتی الهام ته غوږ غوږ دی. ټوله هڅه او هیله یی دا ده چی د ورکی کناری په تلاش کی تر سا اخیستو د مخه یوه تلپاتی سندره وبولي، هغه چی د مراد راکونه ځنی څاڅي.

مصطفی سالک خپلو خبرو ته د چا د رڼا آب ورکوي، د هغه چاچی د ده په عقل کی جهان او د ده په وجدان کی ځان ګوري، د هغه چا چی د کایناتو رنګ یی له رنګه پور اخلي، د هغه چا چی دی یی ځان د ذات او صفاتو (حسن) ترا و ګني. دی غواړي چی سندره یی د ښکلو پر شونډو لکه د ځوانی مضطرب احساس وناڅي.

مصطفی سالک ته د فطرت شاعری بیخي یوېستوی او تکراري ښکاري. د نویو جذبو د پارلو له پاره یی پیمانی ته لاس ورغزولی. خو ناویلی دی پاتی نه وي چی د نویو جذبو د پارولو په تکل پیمانی ته په لاس ورغزولو له بویستویتوب او تکرار څخه نه دی بی نیازه شوی. ځکه چی دی هم ځینی خواږه خوبونه بیا بیا لیدل غواړي.

د مصطفی پنځونی کښ مټ د ده په څیر دي. شور او خوږ دی په کی. هیاهو ده په کی. اپوته اپوته خبری دي په کی. لکه د شفقونه رنګ، د آبشارونو آهنګ، د پیمانو کرنګ، د سترګو جنګ، د ښکریو شرنګ، د خیالونو او فکرونو ګړنګ او تر دا ټولو ورهاخوا د مولانا ملنګ چی دغه واړه وجودي او شهودي تجربی د عاشقانه روح کرشمی دي، مثال: «ستا خالق له تا بیل نه دی. ته خپل عاشقانه روح جوړه کړی یی.»

سالک د تکوین له ټولو عناصرو سره مینه لري. خاوره ده او که اوبه دي، اور دی او که باد. ځکه خو په هر لوري د سیر او سفر لیوال دی.

(د اوښکو مسکا) د مصطفی سالک ادبي ټوټی دي. هم په کی نوي نوزي شاعرانه خیالونه او انځورونه شته او هم ځینی فلسفي مفاهیم. خو دریغه چی د اظهار انداز یی د ټیګور د (ګیت آنجلي) پښتو ژباړی ته ورته دی. هغه چی مرحوم بینوا صاحب ژباړلی ده. له دی کبله چی خلیل جبران او رابندرنات ټیګور یی د خوښی لیکوال دي نو ځینی نور اغیز یی هم ورباندی جوت دی.

هر څو که (د اوښکو مسکا) نثري ټوټی دي خو دغه نثري ټوټی په حقیقت کی سندری او سرودونه دي او سالک د خپلو سندرو او سرودنو ستاینه له نورو نه نه غواړي. ځکه چی دی په خپله ذوقي او هنري تجربه ایمان لري او ایمان داسی یوه وسله ده چی شیطان ځنی امان غواړي .

نورالحبیب نثار

د مصطفی سالک چاپ شوی آثار:

* د طاووس ښکه، شعری مجموعه
* پاتی شه باران دی، ناول
* د اوښکو موسکا، ادبی ټوټی
* منشور، کره کتنه
* و خیمه ما از سایهٔ هما بود، مجموعهٔ شعر های دری

### و خیمهٔ ما از سایهٔ هما بود

هر گل بیاض سروش بود
ترانه در موج نسیم شنا میکرد
و نگهت از جوش جوانی
لباس گل میدرید
ستاره فرو میرفت
و خواب نرگس میپرید
رویای چشمه بیشهٔ سبز گشته بود
و رقص خاموش نغمه
کمر نیزار را کج میکرد
صحرا به نور گل
گلپوش شده بود
و خیمهٔ ما از سایهٔ هما بود
زن زیبا
شعر ناسرودهٔ مرا
از خواب آیینهٔ پیشانی ام
می دزدید
و آنرا در وقت آرایش
با ادای تصویر
زمزمه میکرد
من شاعر شهیدم
و در جنت خاطرهٔ افسانوی
زنده گی میکنم.

### پرواز

ملا مه ماتوه. د مادي تمنا پیتی بلا دروند دی. هغه ده، د خانقاه مخی ته لویه کنده ده. ویی غورځوه. د شپی له خاموشی وزری جوری کړه او د رڼو ستورو په لوری پرواز وکړه.

هژبر شینواری

# د پښتو ادب مرغلری

ترتیب و تنظیم:
**هژبر شینواری**

دو نمونه کلام مصطفی سالک به زبان دری

## شوخی باد

حرکت اندام دختر
پر از آتش خشم و غضب است
شاید احساس لطیف دستم
با باد بهار مشابهت دارد
دختر لاله رخ در سبزه زار شاعرانه
سوی من می آید
حجابش از مستی طبیعت میپرد
ساق مرمرین پایش
در آینهٔ ترنم پاچه هایش عریان است
از نظر دختر تیر میبارد
تا تبسم نازک لبانم را بشکند
نمیفهمد
به جای چادر گلدوزی اش
لب نازک را به دندان میگیرد
دختر نزدیک آمد
حیف!
روی خود را محجوب کرد
خوب...
لطافت مرموز
سینه ابریشمینش عریان گشت!

## نامه

عزیز من سلام!
از تاریکی زنده گیم
چه بنویسم؟
تسلسل روز و شب
در لباس دود میگذرد!

## انسان

انسان روح او خاوره ده. خاوره گل او روح یی نو غواړي. خاوره باید په نور کی د گل روزنه وکړي. خو له جل وهنی به یی ژغوري.

## ریښتیا

ته ریښتیا وایی. ژوند دریدل او پریوتل دي.
خو دا هم درواغ نه ده چی مرگی د پریوتو په حالت کی راځي.

## نبوغ او جنون

هغه یو د ټولنی له حافظی سرت او بل وروکی دی. خو خلک دغه نبوغ او جنون یو گڼي.

## توپیر

هغه چی زه یی حقایق بولم نور یی وهم گڼي. نه پوهیږم یو له بله یی نومونه بدل شوي دي او که زه اشتباه کوم.

## شرنگ او ترنگ

د زولنو شرنگ د رباب ترنگ دی. څوک عارف کا او څوک د هوس په شور کی ورک.

## تصور

ژوند غلو لوټلی اوجل وهلی لاروی دی. پخوا یی د غره له چینی اوبه څښلی. خو اوس یی سرابي تراژیدي ملگری ده چی تنده یی د هم هغی چینی له تصوره جوره ده.

## گناه

د عشق منکره زمانه هم حسن و مینه یو گڼي. د زلیخا گناه د یوسف په سزا سپکوي خو درد یی بیرته د هغی زره ته لاره گوري.